بسم الله الرحمن الرحيم

# افغانستان

AFGHANISTAN

د روسيې په فيدراتيف جمهوريت کې د افغانستان د متحد ملي ګوند خپرونه

د سانکت پيتربورګ نه په دريو مياشتو کې يو ځل خپرېږي

NUPA

د تاسيس کال ۲۰۰۴

زموږ غوښتني

-حب الوطن من الايمان
-د قانون حاکميت
-دموکراسي ( د ولس حاکميت)
-ملي يووالی
-ټولنيز عدالت
-د ښځو او نرو د حقوقو انډول

لسمه ګڼه | اکتوبر ۲۰۱۰ لېږديز کال | لړم ۱۳۸۹ ل کال

د مسول مدير يادښت

## افغانان څه غواړي؟

افغانان په خپله خاوره او خپل هېواد ملي حاکميت، ازادي او سياسي اقتدار غواړي.افغانان په خپله خپلواکۍ او ازادۍ مين دي. په تېرو دريو لسيزو کې زمونږ د هېواد ملي حاکميت استقلال د يو لړ ناسازو او ناسالمو مشرانو له خوا د سوال لاندې راغې. او په افغانانو د جنګ جګړو او ورورووژني ، د پرديو موخو او هدفونو په خاطر په افغانانو وتپل شوې. چې تر نن ورځې پورې افغانانو ته خپل هېواد سور تنور ګرځېدلی دې. او په افغانانو کله د انترناسيوناليزم ، پرولتاريې او کله د غربي ديموکراسۍ شعارونه تپل کېږي.

په پايله کې په دغو کړنو د سر ته رسولو بين الافغاني مخالفتونه رامنځ ته کېږي. پرېکړه دا چې دغه ډول سياسي مشران د خپل ملت او افغاني ټولنې صحيح پېژند نه نه لري. هغه يو متل دې، وايي چې د اوښ په پچه سپور شی او کشمير ګوری. دا ډول مشرانو او سياسي ډلو ټپلو د خپل ملت او ټولنې د پرمختګ له پاره ، چې د ټولو افغانانو د يو واحد فکر او ذهن محصول وي او هغه د خپل عمل او کړنو شعار وګرځوي ، دا رنګ عمل ونکړ.

د دا ډول سياسي ډلو ټپلو مشرانو د خپل ملت ملي ارزښتونو ته زيان ورساوه. او د خپل هېواد سياسي پاليسي يې د پردو په خوښه په خپل ملت تپله. نور نو بس دې تر کومه ؟ افغانستان زموږ ګډ کور دی. او د دې کور ساتنه ، حفاظت موږ په خپله کولی شو. د نړۍ پر مخ تللي هېوادونه دې زموږ د ساتلو غم نه کوي. او خپله غربي ډيموکراسي دې په موږ نه راتپي. موږ افغانان يو ، او په خپله افغانيت د ديموکراسۍ لوړ او غښتلی اصل دی. هو راشئ موږ تاسو سره تجارت ته حاضر يو ،شريکې پروژې سره جوړولی شو. د عصري تکنالوژۍ تبادله سره کولی شو. خو نه افغان د افغان په لاس مه وژنئ. موږ ته ستاسو د دغه سياست ضرورت نشته. مونږ پرېږدئ ،چې خپل ګران افغانستان په دغه سيمه کې يو ازاد ، مستقل ، خپلواک هېواد جوړ کړو.

حاجي سميع اقبال



## ولس پر خپله خاوره نور د بهرنيو ځواکونو شتون نه شي زغملی.

### نورالحق علومي

**د افغانستان د متحد ملي ګوند** رييس ښاغلی نورالحق علومي وايي چې د بهرنيو پوځيانو په حملو کښې زيات تاوانونه ملکي خلکو ته اوړي. ښاغلي نورالحق علومي په کابل کښې وويل ولس چې د بهرنيو ځواکونو د حملو له کبله يې ډير درانه ځاني او مالي تاوانونه ليدلي دي نور چمتو نه دي په خپلو سيمو کښې د دغو ځواکونو شتون وګوري. ښاغلي علومي زياته کړه د بهرنيو ځواکونو لخوا د افغانستان په بيلابيلو سيمو بمباريو سره خلکو ته زيات تاوانونه رسيدلي دي او د دغو جنايتونو اصلي قربانيان ښځې او ماشومان دي. په افغانستان کښې د جنګ اوږديدل د امريکا دمقاماتو او دغه راز په افغانستان کښې دموجودو خارجي هيوادونو دمقاماتو ترمنيځ د اختلاف سبب شوي دي. هغه وويل دخارجي هيوادونو دمقاماتو او د افغانستان دحکومت ترمينځ يو شمير اختلافات رامينځته شوي دي ځکه چې تمه کيدله چې په افغانستان کښې جنګ به ترځلورو کلونو پورې نتيجې ته ورسيږي خو داسې ونشول.

ته اغزي کره زما او د ګل منځ کې زه قدم په لاره نه ږدمه سينه ږدم

# د ستر شهيد په ياد !



د شهيد ډاکټر نجيب الله ارمانونه د تل له پاره د افغانانو په سينو کې ژوندي او برحق دي. د شهيد ډاکټر نجيب الله د ملي مسالحې سياست د افغانستان د هغه وخت د حالاتو او ننني ورځې سره سمون لري. نن ورځ د افغانستان پرابلمونه په دې حساسو شيبو کې ، چې وطن مو د اور په لمبو کې سوزي ، د شهيد ډاکټر نجيب الله د ملي مسالحې سياست شاليد ته پوره اړتيا ليدل کېږي .

د بشري تاريخ په هره پېړۍ کې زور مندانو زموږ په سپېڅلې خاوره د خپل زور ازمايښت کړی دې ، لکه چنگيز خان، لکه سکندر مقدوني، کله عربانو، کله انگرېزانو او کله نورو گاونډيو هېوادونو په پټه او يا ښکاره ډول زموږ په هېواد او ولس زور زياتی کړی دې. خو هيڅ يو قدرت هم په افغانانو بری نه دې موندلی. زموږ په معاصره پېړۍ کې نړۍ په زبر ځواکونو وېشل شوې ده ، د افغانستان جغرافيايي موقعيت او په هېواد کې د ننه سياسي ، اجتماعي او اقتصادي بحران موجوديت د دې باعث شو ، چې زموږ هېواد د زبر ځواکونو د مقابلې په مېدان بدل شي. په افغانستان کې د کيڼ لاسو سياسي قوتونو عجولانه ريفورمونو او اصلاحاتو پلې کيدل او د خلق ديموکراتيک گوند په منځ کې د ژورو اختلافاتو او د شوروي اتحاد د کمونيست گوند د غلط تحليل ، چې د افغانستان د وضعې څخه يې درلود يو لور ته او د بل لوري پاکستان، ايران او يو لړ عربي هېوادونو کې د قدرت غوښتونکو عناصرو موجوديت د افغانستان څخه د ښي لاسو قوتونو د فرار زمينه برابره کړه. او هلته يې د افغان ضد جبهې د جوړولو مبادرت وکړو. د افغانستان او پاکستان تر مېنځه تاو تريخوالی زيات شو. له يوې خوا د وطن او يا کفن او د بلې خوا د جهاد شعارونه ورکېدل . خو په حقيقت کې دا د امريکا متحده الاتو او د شوروي اتحاد تر منځ جگړه وه. ټولو خواو د مقابل لوري د ماتولو هڅې کولې. مليونونه افغانان په دې جنگ کې زيانمن شول. تباهي او ورانکاري اوج ته ورسيده . او افغانان څه شهيدان ، څه معيوب، څه مهاجر او سرگردان شول. زبر ځواکونو خپلو طرفدارانو ته پراخ امکانات په لاس ورکړل . مشران، رهبران، قومندانان مغروره او بې پرواه شول . ولس د فقر او تباهۍ سيلاب پر مخه اخستی وو. دې وضعې څو کلونه دوام وکړ.

کله چې په شوروي اتحاد کې گورباچوف د بيا جوړونې او د بيان د ازادۍ سياست سياسي اصطلاحات په کار واچول ، غربي نړۍ په ډېرې بيړې سره دغه تحول د شوروي اتحاد د ماتې يوه نښخه وبلله. شوروي اتحاد د افغانستان د خپلو نظامي قوتونو د وېستلو تکل وکړو. او غربي نړۍ په بيړه د خپل مقابل لوري د مکمل تسخير پلانونه جوړول . نړيوال سوسياليستي سستم د منځه لاړ. د برلين ديوال ړنگ شو په افغانستان کې کيڼ لاسي او ښي لاسي قوتونه د خپلو بادارانو هدايت ته منتظر وو. د يو سياسي تدبير د نيولو څخه عاجز وو. د تاريخ په دغه نازکه مرحله کې يوازې يو زړه ور، شجاع، سياست پوه، فقيد ډاکټر نجيب الله ؤ ، چې د هېواد د نجات لپاره يې د ملگرو ملتو د ادارې سره نږدې اړيکې ټينگې کړې. هغه فکر کاوه، چې ملگري ملتونه يوائينۍ اداره ده، چې کولی شي، افغانان له يوې سترې غميزې څخه ، چې هغه يې وړاند ليدنه کړې وه ، وژغوري .

فقيد ډاکټر نجيب الله د شوروي اتحاد د قوتونو د وېستلو لاره هواره کړه. پاکستان يې مجبور کړ ، تر څو په خپلو لاسوهنو ، مداخلو اعتراف وکړي. او د جېنېوا توفقات د دواړو ملکونو له خوا لاسليک شول ، چې وروسته پاکستان څو زره وارې د دغو تړونونو څخه سرغړونې وکړې.

شهيد ډاکټر نجيب الله په ډېر صداقت، او پاکه افغاني ايمانداری سره د ملگرو ملتونو د ټولو پرېکړو احترام، او د هغې په عملي کولو کې پوره کوښښ کوو. ولې وروسته څرگنده شوه ، چې د ملگرو ملتونو اداره ، د امريکا د متحده ايالاتو يوه لاسپوڅي اداره ده. او بېن سوان په ناځوانمردانه توگه ډاکټر نجيب الله قدرت پرېښودلو ته وهڅولو ، چې وروسته د همدې ادارې د شومو پلانونو په پايله کې په شهادت ورسيد.

راتلونکی نسل به يوه ورځ د خپل ماضي تاريخ پاڼې تر نظر تېرې کړي او د ډاکټر نجيب الله په کارنامو به د حسرت اوښکې تويوي.

حاجي سميع اقبال

# رهبران طالبان مخفیانه برای مذاکرات به افغانستان آمده اند

برخي مقامات افغان مي گويند :تعدادي از قوماندانان ارشد طالبان قرارگاه های خود را در پاکستان مخفيانه ترک و با همکاري ناتو برای مذاکرات به افغانستان مي آيند
به گفته آنان مذاکرات برای ختم جنگ در افغانستان حاوی بحث های همه جانبه و مستقیم است و این گفتگو ها که با بعضی از قوماندانان طالبان در کابل صورت گرفته است.
به گزارش راديو آزادي به نقل از این مقامات مذاکرات بین حلقه داخلی حکومت افغانستان و شورای کویته انجام شده است. رهبران افغان هم چنان مذاکراتي را با مقامات ارشد شبکه حقانی انجام داده اند.
گروه حقانی به حیث تندرو ترین گروه شورشی در افغانستان شناخته می شود که شماری از اعضای آن در شورای کویته شامل هستند و قرارگاه آن در شرق افغانستان موقیعت دارد.
مقامات افغان که در این مذاکرات سهیم اند به نیویورک تایمز گفته اند ، رهبران طالبان که اقامتگاه های شان در پاکستان را ترک نموده و برای مذاکرات به افغانستان آمده اند ، تضمین عام و تام حاصل کرده اند که از سوی نیروهای ناتو مورد حمله قرار نمی گیرند و یا دستگیر نمی شوند.
اکثر رهبران طالبان در پاکستان به سر می برند ، جايي که گفته می شود به نحوی از مصونیت رسمی هم برخوردار اند.
به گفته یک تن از افغان های که از جریان این مذاکرات آگاهی دارد ، حداقل یک تن از رهبران طالبان، اخیراً از سرحد پاکستان وارد افغانستان شده و در یک طیاره ناتو راهی کابل شد.
در قضایای دیگر، نیروهای ناتو امنیت تعدادی از راه ها را تامین نموده اند تا مقامات طالبان بتوانند به بعضی مراکز افغان و ناتو سفر کرده، مذاکرات را انجام دهند.
به گفته این مقام افغان، اکثر مذاکرات در خارج از کابل صورت گرفته است. مقامات امریکایی هفته گذشته گفتند ، مذاکرات بین رهبران افغان و طالبان جریان دارد. ولی درجه این مقامات طالب، وابستگی آنان به گروه های مختلف طالبان و هم موضوع دخالت ناتو در تامین امنیت راه ها برای حمل و نقل طالبان، قبلاً افشا نشده بود.
یک مقام افغان که در گذشته به حیث دیپلومات در منطقه ایفای وظیفه می کرد گفته است، حداقل چهار رهبر طالبان که سه تن آنان از شورای کویته و یک تن دیگر یک عضو فامیل حقانی می باشد ، در مذاکرات صلح شامل بوده اند.
قصر سفید از نیویورک تایمز خواسته است، هویت این چهار قوماندان طالب را افشا نکند.
مقام افغان گفته است افشای نام های این افراد شاید منتج به مرگ آنان از سوی دیگر قوماندانان طالبان و یا از سوی نماینده های آی. اس. آی شود.
به گفته نیویورک تایمز مذاکرات هنوز در مرحله ابتدایی قرار دارد ، زیرا مقامات افغان و امریکایی می خواهند بدانند ، رهبران طالب که در این بحث ها سهیم بوده اند ، تاچه حد در حلقات خویش نفوذ دارند. نیویارک تایمز تاکید کرده چندین مذاکره دیگر هم صورت گرفته و این تلاش ها برای ختم جنگ , ساله در افغانستان بی سابقه است.
یک مقام افغان گفته است این مذاکرات، مستقیم است، این بحث ها برای خوش ساختن رئیس جمهور کرزی یا امریکا نیست، این مذاکرات به منفعت مردم افغانستان است.
طالبان وقتی می بینند که در کشورشان آزادانه و بدون آنکه مورد حمله امریکایی ها قرار بگیرند ، سفر می کنند و ببینند که حکومت شان حاکمیت دارد ، به ما اعتماد می کنند.

## په اننګو د ښکلو څه ګډ بړي

چې په ګوګل کې ورته زړه ګډ بړي
کله راپورته چې بانه کړي اشنا
لکه په جنګ چې پښتانه ګډ بړي
ځان ترې ساتمه، خو بې وسه شمه
زما د ښکلو سره خوله ګډ بړي



# د ښاغلي فاروق فردا تازه شعرونه

## ګودر

په کاڼو وويشتل شول
دپسرلي په شنه لمنه کې سره سپين ګلونه
دکلي پېغلو دانګړ د ګړونجيو پر منګي نورنظر نه ماتوي
د ګودر لارې ورکې شوي او هېر کړې يې دي
دخپلو ژڼو پر څنګلو غرمني خوبونه

## رڼا

رڼا له لريو نه سترګکې وهي
دتيارې زړه دی را لوېدلی پښه يې نه ټينګېږي
دغره له سره کوم چا
د ورېځو تورې پاغوندې يې که په کاڼو باندې وويشتلو
وړانګې دلمر به مو تر زړونو هم را ورسېږي.

## يوازې ته ښکلې يې

ولې آشنا پربلئ نه راخېژې؟
ستا په ليدو زما دزړه د بڼ ګلان غوړېږي
ته وايې ښکلي کمې ندي په مالت کې زموږ
رښتيا د ښکلو کمی نه وينم خو،
ښکلې دي ډېرې، تاته نه رسېږي.

## خيال

زما د خيال پر وزر ناسته،
خدايزده دغه څه بلا ده
ليوني مې شي خيالونه
چې يوه شېبه هم نه وي،
بلا نده، خدای دې نه کړي، ستا ښکلا ده

## توتکۍ

توتکۍ ګرزي کور په کور کلي په کلي ګرزوي د پسرلي زېری يې
خو دلته اوس هم لا په درز د ژمني ديو پادشاهي چلېږي
خلک اوس هم د کنګلونو په هيندارو کې مخونه ګوري
او دلمرونو د سترګکو د حجاب له پاره
زموږ پر فصلونو باندې هره شپه شاړه ورېږي.

## رهبر

ديوه رهبر دفتر ته ننوتم
ده، کوم کاغذ ته چې د مېز پر سر يې پروت وو کتل
ورته دتېرې شپې د سختو جګړو
دشهيدانو يې نوم لړ چا لوسته
رهبر د هر يوه د نوم په آورېدلو سره کټ کټ خندل.

بسم الله الرحمن الرحيم

# شورا ی رهبري سراسري حزب واحد افغانستان در روسیه فیدرالي و شوروي سابقه رسماً ایجاد و شروع به کار نمود.

نظر به هدایت مقامات رهبري حزب واحد افغانستان بتاریخ ۲۸/۱۰/۲۰۱۰ با موجودیت رفقای ذیل هر یک:

رفیق ډاکتر راضیه هوتکي، رفیق احمد شاه مروي، استاد عبدالله، استاد لونګ رحمان ، رفیق جنرال نقیب بیات ، رفیق جمعه خان عالمیار ، رفیق ډګروال شمس الرحمان لاروی، حبیب الله هدفمند ،رفیق فواد نعمت ، رفیق کاکړ و حاجي سمیع اقبال تدویر جلسه نمود.

جلسه تحت ریا ست رفیق احمد شاه مروی رسماً افتتاح و بیشبرده شد .

در جلسه حزبي تمام مسایل تشکیلاتي و سازماني زیر بحث قرار ګرفت.

در جلسه فېصله به عمل آمد .

۱. ایجاد شورا ی رهبري سراسري حزب واحد افغانستان در روسیه فیدرالي وشوروي سابقه

۲. ایجاد شوراهای رهبري شهري در روسیه فیدرالي

رفقای حاضر جلسه پیرامون دو بخش اجندا صحبت های همه جانبه نمودند. رفیق حاجي سمیع اقبال به صفت رییس شورای سراسري روسیه فیدرالي و شوروي سابقه با اکثریت ارآ انتخاب ګردید و رفیق احمد شاه مروي ،رفیق نقیب بیات ،رفیق ډاکتر راضیه هوتکي و رفیق ډګروال نورالله به صفت معاونین شورا ی سراسري حزب واحد افغانستان در روسیه فیدرالي و شوروي سابقه انتخاب ګردیدند. وهم چنان شبعات بخاطر پیشبرد کار های سیاسي و سازماني ایجاد نمودند.

رفیق داکتر راضیه هوتکي به حیث رییس شورا شهري مسکو به اکثریت ارآ انتخاب ګردید.

شبعات کاري به خاطر پیشبرد کار های سازماني ایجاد و تاسیس ګردید .

**موږ پر مخ ځو ، برۍ زموږ په برخه دی**

حاجي سمیع اقبال

---

**ښنګه هغهٔ کلي ته خپل کلی ووایم،چرته چې انسانان هم د چرګانو په څېر خرڅېږي او حلالېږي ؟**

حاجي سمیع اقبال

---

ښکلی یار چې راسره کله تر څنګ وي
مخ ته نه ګورم، کوهی وي که ګړنګ وي
شینکی خال یې زنکدان کې داسې زیب کا
لکه ناست په مېخانه کې مست ملنګ وي
ښکلی یار چې مې نظر نه لرې ناه شي
ټول جهان لکه لحد راباندې تنګ وي

---

## د لویانو خبرې

خوږه خبره صدقه ده—–حدیث شریف
علم زده کړه که په چین کې هم وي—–حدیث شریف
دوست هر کس، دوست هیچ کس نیست—–-حضرت علي کرم الله وجهه

---

چرګان هم غلا کوي، چې خاوند یې غریب شي.
خپل عېب د ولو منځ، د بل عېب د کلو منځ.
هم مستې خرڅوي، هم مخ پټوي.
په کال کې یو ځل لرګے هم دز کوي.
چرګان مینه کوي، ځکه هګۍ اچوي.
منه او مرچ یو ځای نه خوړل کیږي.
په زور کلي نه کیږي.
د غلا پیټی هر وخت درووند وي.
ډار یوازې د خپلې ښځې نه پکار دی.
شامیل مړ دی، ځکه حراموني هم ډېر شول .

---

**چې دې نه وینم سوزېږم، چې دا ولې**
**یو هوښیار طبیب له څمه ، چې مې پوه کړي**
**نه پوهېږم ، نه رغېږم ، چې دا ولې**
**په کوم ځای چې مې دیدن ورسره وشي**
**هغه ځای ته بیا ژړېږم ، چې دا ولې**
**دا منم ، چې پرون خو داسې نه وم**
**اوس دا خپل ځان نه وېږېږم، چې دا ولي**

---

# درنو هېوادوالو !

د روسیې په فیدرالي جمهوریت کې د افغانستان د واحد ګوند سرتاسري ګوندي شورا جوره شوه او په کاریې پیل وکړ. ټولو هاغو افغانانو ورونو او خوېندو نه ، چې د ګران هېواد افغانستان د اوسني کړکیچنو سیاسي حالاتو په اړوند خپل ځانونه بې تفاوته نه ښایي ، د افغانستان متحد ملي ګوند مشرتابه په ډېره درناوي هیله کوي ، د خپلو سیاسي علایقو په نظر کې نیولو سره خپل ځانونه د دې ګوند په صفوفو کې تنظیم کړي.

**ستاسو د راتلو په هیله**

---

مسؤل چلؤنکې__________حاجي سمیع اقبال
مرستیال__________محسن پیکار
مرستیال__________داکتر راضیه هوتکي
مسول سکرتر__________قاري خلیل ابراهیمي
مسول سکرتر__________استاذ لونګ رحمان
موبایل__________۰۰۷-۸۱۲-۹۷۴۰۴۸۲
برېښنالیک: Afghanistan@mail.ru
ادرس_روسیه، سانکت پیتربورګ ، اپراکسین دوؤر، کارپوس ۳۹